عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۸/۱۶

# ټچ مولا

په افغان ټولنه کې د ريفورميست ويښتيايي بهيرونو ټينګار تل دا و/ دی، چې د دين له وجودي فيلوسوفي سره هيڅوک ستونزه نه‌لري، ستونزه ټوله له دين څخه د واک، ځواک، زر و زمکې د راخپلولو او ساتلو لپاره د ناسمو تعبيرونو او تفسيرونو ده.

زه نه‌پوهيږم، چې دا به کوم ديني «متن» وي، چې ښاغلی «ټچ مولا» يې پربنسټ لګيا دی او د نړۍ نوي سلمه مسلمانان په دې جرم له ايمان څخه باسي، ګواکې چې ټچ موبايل لري؟

«ټچ مولاخېل» بايد پوه شي، چې خلک نن يا سبا خامخا دا پوښتنه راپورته کوي، چې:

دا څه رقم واحد ديني «متن» دی، چې په افغانستان کې د ښځو ماشومانو د غوښو او وينو شيندلو ته «جهاد» وايي، په زيږنتون کې نوي زيږېدلي ماشومان وژل «جهاد» بولي، خو هماغه خوله له هماغه کتاب څخه بله ورځ فتوا جاري کوي، چې په پاکيستان کې جهاد ناروا دی. هغه پاکيستان چې قانون يې انګريزي دی او د شريعت و فقهي احکامو هيڅ څرک يې په رسمي اداري - حقوقي تعاملاتو کې په ذره بين نه ښکاري.

دوی څه ګڼلي ده - خدای مه‌کړه - د افغانستان خلک ماغزه نه لري، چې په دې اړه فکر وکړي؟

ايا داسي دوه ګونی مسخره چلند د خلکو په ذهنونو کې د ديني اصالت په اړه پوښتني نه راپيدا کوي؟

خلک به خامخا پوښتي، چې: «ولې؟»

په دې اړه د «ديني ټولنپوهني» علمي بنستونه لاندې ستونزې راپه ګوته کوي:

۱ ـ له ديني متونو او نصوصو څخه د روحاني پوړ (قشر) داسي کاږه واږه تفسيرونه او تعبيرونه، چې هدف يې ورڅخه خپلو سياسي، مادي او دنيوي موخو ته رسېدل وي. دوی په ډېره سپين‌سترګي ديني متون په خپله ګټه تفسيروي او ورته ناست کسان (مخاطبان) انسانان نه ښکاري.

۲ ـ د واک و ځواک له ليونيو مينه والو سره د کړو تفسيرونو او تعبيرونو تر څنګ وسله او د وژلو بېرحمه ځواک هم ملګرې شوی دی، چې خلک عقلي استدلال او اعتراض ته نه پرېږدي. دوی د ټوپکو په مرسته خپلې غوښتنې د الهي احکامو په نامه پر خلکو تپي او که چا لږ هم شک کاوه، نو زندان، وژنه، ترې‌تم کول او کړول خو شته.

۳ ـ په سياسي - ټولنيز جوړښت کې د داسي باصلاحيته ارګان نشتوالی، چې له ديني متونو څخه واک و ځواک ته د تړيو تفسير - تعبيروونکيو مخه په علمي دلايلو ونيولای شي.

۴ ـ له تاريخي پلوه تر دويمي هجري پيړۍ روسته دومره ګڼ شروح کښل شوي دي، چې د اصلي متونو ضد و نقيض تعبيرونو او تفسيرونو ته يې د متنپوهنې له اړخه هم لاره هواره کړې ده. په روستيو لسيزو کې د پاکيستان چاپ استخباراتي ژېړو کاغذونو والا مبهمو او بې هويته تش په نامه کتابونو دا ستونزه نوره هم زياته کړې ده.

د ايديولوژيک تحجر تکرونه دوه ځايه پيښيږي، يو ځای له «علم» سره او بل ځای د خلکو له «تکاملي درک» سره .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولــئ

ایډیولوژیک تحجر لاهم زمکه د غوايي پر ښکر سپره ګڼي، غویی پر ماهي ولاړ دی او ماهي په اوبو کې روان دی...

خو علم وايي: چې زمکه یوه کـــُره ده، پرځان او لمر راڅرخي او ورځ و شپه و کال ترې زیږي...

ایډیولوژیک تحجر هغه وخت د علم په وړاندي په ګونډو کیږي، چې علم په تکاملي بڼه نوی کېدونکی دی او ایډیولوژي د ځای پرځای ساتل شویو ړندو باورونو د مجموعي په توګه ولاړه ده او نوی‌کېدن نه مني.

همدا راز د ایډیولوژیک تحجر بله بدمرغي او بایلات دا دی، چې خلک ورځ په ورځ، کال په کال او پیړی په پیړۍ له نويو معلوماتو او پوهنو سره د خپل ژوند بهیر نوی کوی، خو «تېچ مولا» ورته لاهم د زړو کلونو پخوانی نغارې غږوي.

ښاغلیه زړ کلني افساني د «تېچ سمارټ‌فون» په زمانه کې د خلکو د خندا دي، ځان نوی (اپډیت) کړه.

علمي باور دا دی، چې روښانه و راویښ شوي خلک به تل د توپک و کوتک له سیوري نه ډاریږي. اخر به د دغو مسخره کړو وړو تعبیرونو او تفسیرونو په وړاندې دریږي او «تېچ مولا» به تر پښنو لاندي کوي.

په یویشتمه پیړۍ کې خلک خپل ژوند د پوهنې و تکنولوژۍ له چټکې منډې سره سم عیاروي.

نور نو ماشومان هم پوهیږي، چې:

زمکه د غوايي پر ښکر ولاړه نه ده!

**ویښتیا - روښانتیا - بدلون!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ